# پرمختیا

UNDP
Afghanistan

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري میاشتنۍ خبرپاڼه

۹ کب ۱۳۸۶
۲۸ مارچ ۲۰۰۸
ګڼه: ۸ /۰۸


## د کندهار پروژه په افغانستان کې تر ولسي مشرۍ لاندې پرمختیا یوه ښه بېلګه

### په دې ګڼه کې:


۵۰۰ افغان دولتي کارکوونکو د مدیریت او مشرۍ د مهارتونو په اړه روزنه ترلاسه کړې ۴

په کندز کې په ازمیښتي ډول د طبعي پیښو په وړاندې د مبارزې نوې لار کارول کیږي ۶

د ځوانانو د ملګرتیا راکړه ورکړه ۸


د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري په ملاتړ د سیمه ییزي پرمختیا د ملي پروګرام د ولسي پرمختیایي هڅو په برکت په کندهار کې ډیري ارزښتناکې بیخبنایي پروژې پلي شوي دي. کندهار یو له هغو ولایتونو څخه دی چې له بې وزلی او امنیتي ستونزو نه خوربږي. دغه پروژې د ولسوالیو د پرمختیایي شوراګانې نیغ په نیغه برخه اخلي او همدارنګه د کلیو د پرمختیا او بیارغونې وزارت د انجینرانو او کارکوونکو امنیت تضمینوي. دغه موډل ډیر بریالی دی او تر دې دمه په کندهار کې له دې لارې ۱۸۰ پروژې پلي شوي چې د کندهار د ولسوالیو د پرمختیایي شوراګانو له خوا د وړاندیز شوو افغانستان په کلیوالو سیمو کې په نسبتاً کم وخت کې د بیارغونې بنسټ کیږدي.

د سیمه ییزي پرمختیا د پروګرام بریالیتوب له دې ټکي سره تړلی چې څنګه کولای شي د ولسوالیو په کچه د پرمختیایي چارو تر څنګ ولایتونو او مرکز په کچه د



د ولسوالی د شورا غړي د خپلو لومړیتوبونو په هکله خبري اتري کوي، عکس: د ساحوي پرمختیا ملي پروګرام

شوراګانو په وړاندیز پلي شوي دي.

د ډیرو اړینو بیخبنایي پروژو د چټکې پلي کېدا لپاره، د سیمه ییزي پرمختیا ملي پروګرام په ازمیښتي ډول د پرمختیایي چارو داسي لار خپله کړې چې مشری یې د ولسي خلکو پر غاړه ده. دغه لار اوس د "کندهار موډل" په نامه پیژندل شوي ده. د دغو پروژو په پیژندنه، پلي کېدنه او څارنه کې د ولسوالیو پروژو ۸۹ سلینه (فیصدي) جوړوي.

د سیمه ییزي پرمختیا پروګرام په پام کې لري چې کندهار ته ورته لار د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم وکاروي. د سیمه ییزي پرمختیا پروګرام د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري نوښت دی چې د کلیو د بیارغونې او پرمختیا له وزارت سره مرسته کوي چې د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت کاري ظرفیت لوړ کړي. دغه له پاسه ښکته او له ښکته پاس لار ولسي خلکو او دولت ته موقع ورکوي چې په افغانستان کې د بېوزلی د له منځه وړلو او خلکو ته د معیشت د زمیني د برابرولو لپاره ګډ کار وکړي.

دویمه پاڼه کې ادامه لري

د کلیو د بیارغوني او پرمختیا له وزارت سره د سیمه ییزي پرمختیا د پروګرام د مرستي په اړه د دغه وزارت وزیر ښاغلي احسان ضیا په دي وروستیو کي ویلي "د سیمه ییزي پرمختیا ملي پروګرام د کلیو د بیارغوني او پرمختیا وزارت یو له سترو پروګرامونو څخه دی چي د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري له خوا یې ملاتړ کیږي او وزارت ته وړتیا ورکوي چي ورسپارل شوی مسؤولیت په ښه توګه ترسره کړي".

د سیمه ییزي پرمختیا ملي پروګرام په ۲۰۰۲م کال کي وروسته له هغه پیل شو چي د افغانستان د مرستي د همغږی اداري د ملګرو ملتونو له پرمختیایي اداري څخه وغوښتل چي د کلیو د بیا رغوني د یو اوږد مهاله پروګرام په جوړولو او ملاتړ کي د مشری نقش ولوبوي. د سیمه ییزي پرمختیا د ملي پروګرام په لومړي پړاو کي په لسو تر ټولو ډیرو جنګ ځپلیو سیمو کي د سم لاسي رغوني، کاري ظرفیت لوړولو او اقتصادی بیارغوني پر درېیو برخو تمرکز شوی وو.

د سیمه ییزي پرمختیا د ملي پروګرام په لومړي پړاو (۲۰۰۳ – ۲۰۰۶ ) کي ۲۶۹ کلیوالي بیخبنایي پروژي لکه د ښوونځیو، کلینیکونو، سړکونو او د اوبو د سیستمونو د جوړولو پروژي پلي شوي دي. د دي سربیره د کاري ظرفیت د لوړولو په برخه کي د کلیو د بیارغوني او پرمختیا له وزارت سره ستراتیژیک پلان جوړونه او د وزات د کارکوونکو په ګمارنه او روزنه کي مرسته شوي ده. د اقتصادي بیارغوني په برخه کي د شمالی، سهیلي، ختیزي او مرکزي سیمو د سیمه ییزي پرمختیا پر ارزونه کار شوی دی.

د سیمه ییزي پرمختیا د ملي پروګرام دویم پړاو د ۲۰۰۶ په سر کي پیل او تمه کیږي چي د ۲۰۰۸ تر پایه پوري به دوام وکړي. په دویم پړاو کي هڅه کیږي چي ولسي خلک د دي وړ کړي چي د بیوزلي د کمولو او د معیشت د ښه والي لپاره خپل لومړیتوبونه او ضرورتونه په ګوته او د حل لار یې وپلټي او همدارنګه د کلیو د پرمختیا وزارت کاري او اداري ظرفیت لوړولو ته ادامه ورکړای شي چي د کلیو د پرمختیا چاري په ښه توګه پر مخ ویسي.




په نورو کلیوالو سیمو کي زیاتیدونکو اړتیاوو او د ولایتونو تر منځ د مساوات اړوند اندیښنو ته په پام سره د دغه پروګرام د کارونو لمن اوس د هیواد تر ټولو ولایتونو ته غځبدلي ده. د دویم پړاو لپاره د ضروري بدلونونو د یوي برخي په توګه سیمه ییزي پرمختیا ملي پروګرام ستر شو او پر ځلورو برخو وویشل شو چي هره یوه یې د پروګرام د کار یوه ستره برخه پر مخه وړي. په دغو ځلور برخو کي د ولسونو واکمنتیا، د پلي کولو ملاتړ، اقتصادي بیارغونه او بنیادي پرمختیا شامل دي.

د ولسونو د واکمنولو برخه د ولسي پرمختیا چاري د ولسوالیو د شوراګانو د جوړولو له لاري پر مخ وړي. تر دي دمه دغه منتخبي محلي ټولني د افغانستان ( شا او خوا ۷۰ ٪) له ۴۰۸ ولسوالیو نه په ۲۸۲ ولسوالیو کي جوړي شوي دي. دغه شوراګاني د ولسوالیو پرمختیایي پلانونه جوړوي چي له مرسته ورکوونکو او دولت سره مرسته کوي چي خپل پرمختیایي پلانونه د ځایي خلکو له اړتیاوو او لومړیتوبونو سره سم تنظیم او پلي کړي.

د بیلګي په توګه په دي وروستي وخت کي د کونړ په ځلورو ولسوالیو کي د ولسوالیو پرمختیایي شوراګاني جوړي شوي دي. ډاکټر خیرالله د واټه پوري د ولسوالی د شورا غړی د خپلي ولسوالی د شورا د هیلو په هکله وایي "موږ هیله لرو چي د پلان جوړوني دغه بهیر به ښې پایلي ولري، دغه پلانونه به د مرستندویه ټولني پام د اوبو د ځاوو، بندونو، د اوبو د زخیرو او سړکونو جوړولو ته راواوړي او په دي توګه به زموږ په ولسوالی کي بې امنیتي او اوزګارتیا پای ته ورسیږي".

دریمه پاڼه کي ادامه لري

د ولسونو د واکمنتیا برخې مرسته د تیر کال د محلي مشورو او ولایتي پرمختیایي پلانونو د جوړولو په بهیر کې ډیره مهمه وه چې په پایله کې یې ۳۶ ولایتي پرمختیایي پلانونه جوړ شول. همدغه برخه د ښځو او نارینه وو د یو ډول حقوقو مسله هم په پام کې نیسي. د ولسوالیو په پرمختیایي شوراګانو کې د ښځو برخه ضروري ده چې د جوړو شوو شوراګانو ۲۷ ٪ غړي ښځې دي.

د ولسوالیو د شوراګانو له خوا په ګوته شوي پروژې د سیمه ییزې پرمختیا د ملي پروګرام د پروژو پلي کوونکې برخې په مرسته پلي کیږي چې همدغه برخه د کلیو د پرمختیا وزارت د بلابلو څانګو لکه د کلیو د بیخبنایي او تخنیکي خدمتونو ریاست، د تدارکاتو ریاست او د څارنې او مراقبت ریاست او د محلي خلکو تر منځ همږي ته وده ورکوي چې لومړیتوب لرونکې پروژې ژر پلي شي. شا او خوا ۲۸۰ کلیوالي بیخبنایي پروژې یوازې په ۲۰۰۷ م کال کې پلي شوي دي. د پروژو د پلي کولو څانګه همدارنګه د کلیو پرمختیا د وزارت د سیمه ییزو دفترونو د جوړولو او په دغه وزارت کې د منل شوو کړنلارو او سیستمونو لکه د پروژې د دوراني مدیریت د ترویجولو له لارې غواړي چې د وزارت کاري وړتیا لوړه کړي.

د افغانستان اقتصادي وده د راتلونکي ثبات او د بیوزلي د کمولو لپاره ډیره مهمه ده، په همدې خاطر د سیمه ییزې پرمختیا ملي پروګرام دي مسلې ته د اقتصادي بیارغونې د څانګې له لارې د ځواب ویلو هڅه کوي. همدې څانګې د کلیوال اقتصاد د بیارغونې د سیمه ییزو تګلارو د جوړولو د یوې برخې په توګه د هیواد د ټولو ولایتونو د اقتصادي وړتیاوو نخشه برابره کړې ده. دې برخې همدارنګه په ځینو ټاکل شوو ولایتونو کې د فرعي سیکتورونو/د ارزښت د ځنځیر تحلیل او کاري پلانونه جوړ کړي، چې د کلیوالو خلکو د عاید د زیاتولو او د کار د فرصتونو د پراخولو موخه لري.

د بنیادي پرمختیا څانګه د کلیو د پرمختیا وزارت د بنیادي کاري وړتیا او د دغه وزارت د کارکوونکو د تخنیکي وړتیا له لوړولو سره مرسته کوي. همدې برخې د کلیو د پرمختیا له وزارت سره د عمومي ستراتیژیک پلان او د وزارت له بلابلو ریاستونو سره د کلنې عملیاتي پلانونو په جوړولو کې مرسته کړې ده.

په مرکز کې د کار تر څنګ د کلیو د پرمختیا او بیارغونې د وزارت د ولایتي دفترونو وړتیاو ارزونه ترسره شوې ده. د دې سربېره، د روزنیزو پروګرامونو له لارې د افغان کارکوونکو د کاري وړتیا لوړونه د بنیادي پرمختیا د څانګې د کار یوه مهمه ساحه ده، چې تر دې دمه یې د بلابلو موضوعاتو په هکله لنډې روزنې ورکړې چې په دې کې په وزارت کې د افغان روزونکو روزنه هم شامله ده. دې څانګې د افغانستان په ټولو سیمو کې د خپلو پلان شوو پروګرامونو لپاره په درې کې هم روزنیز مواد (لکه د پروژې د دوراني مدیریت په اړه مواد) برابر کړي دي.

**د بنیادي پرمختیا څانګه د کلیو د پرمختیا وزارت د بنیادي کاري وړتیا او د دغه وزارت د کارکوونکو د تخنیکي وړتیا له لوړولو سره مرسته کوي.**

د دې ټولو کارونو سربېره، د سیمه ییزې پرمختیا ملي پروګرام له نورو عمده نوښتونو لکه د ناقانونه وسله والو ډلو د منحلولو پروګرام (ډاياک)، د نشه یي توکو پرخلاف د مبارزې امانتي صندوق او د کلیو د اوبو او حفظ الصحې له پروګرام سره د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې همکاري کوي.

پورتني بریالیتوبونه د یو لړ ننګونو او خنډونو سره سره ترلاسه شوي دي. د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت کاري ظرفیت ډیر لوړ شوی خو اوس هم باید په دې لاره کې نور ډیر څه وشي.

د قراردادیانو ټیټ کاري ظرفیت بله هغه ستونزه ده چې د ځینو پروژو د اوږد ځنډ لامل ګرځي. پروژې، ځینې وخت د ولسوالیو په کچه د لومړیتوب پر سر له ټولنیزو نانډریو سره مخ کیږي چې زیات وخت د پروګرام کارکوونکي باید په کې د منځګړیو نقش ولوبوي.

کله ناکله خراب امنیتي حالت، په ځانګړې توګه په جنوب کې د سیمه ییزې پرمختیا د ملي پروګرام پروژې له ځنډ یا دریدو سره مخ کوي، خو د ځایي خلکو د امنیتي تضمین په برکت اوس په هغو ځایو کې پروژې پر مخ ځي چې پخوا د پرمختیایي کارونو لپاره یې امنیت خوندي نه وو.

## د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژه
## ۵۰۰ افغان دولتي کارکوونکو د مدیریت او مشرۍ د مهارتونو په اړه روزنه ترلاسه کړې



*د سر د مشرتابه د روزنې په دویم ګروپ کې برخه وال په کاري ناسته کې*

د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژې تر دې دمه د افغان دولت د ۲۴ وزارتونو او ۶ خپلواکو ادارو ۵۰۰ لوړ پوړو چارواکو ته روزنه ورکړې ده. دغه روزنه د سر مشرتابه پروګرام، لوړپوړي مشرتابه پروګرام او ځوان مشرتابه پروګرام له لارې ترسره شوې ده.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د ولسواک حکومت د پیاوړي کولو او د کاري ظرفیت د لوړولو د هڅو د یوې برخې په توګه د ۲۰۰۵ د مې له میاشتې راهیسې د اداري سمون او ملکي خدمتونو له کمیسون سره د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژې له لارې مرسته کوي.

د اداري سمون او ملکي خدمتونو د کمپسیون یوه ستره موخه د ملکي خدمتونو د داسې یو ګټور او پر ورتیا ولاړ سیستم رامنځته کېدنه ده چې مسلکي ظرفیت او د خدمت بنیادي کلتور ولري او د ملکي خدمتونو په وړاندې کولو او د بیارغونې او پرمختیا په پروګرامونو کې سم کار وکړي. په دې اوږده بهیر کې لومړی ګام د داسې مسلکي مشرانو وده ده چې عصري مدیریتي او اداري ورتیاوو او د دغه دود د ترویجولو لپاره ستراتیژیک لرلید ولري.

د دولت د سولې راوستلو، ثبات رامنځته کولو او د بیارغونې او پرمختیا د موخې د ترلاسه کولو لپاره د ملکي خدمتونو د مناسب او ګټور سیستم چټکه وده ډېره ضروري ده.

پورتنۍ پروژه غواړي چې د لوړ پوړو دولتي کارکوونکو نیمګړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره دوی ته د دولتي سیکتور د مدیریت په عمده برخو کې روزنه ورکړي او د دوی ورتیا دومره لوړه کړي چې د افغانستان پرمختیایي پلانونه په سمه توګه پلي کړي. په تیرو دوو کلونو کې د مرکزي وزارتونو، ادارو او ولایتي دفترونو د سر، لوړپوړو او ځوانو مشرانو لپاره یو لړ روزنیز پروګرامونه پلي شوي دي.

د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژې بله موخه د افغانستان د ملکي خدمتونو انستیټیوټ عملیاتي ظرفیت لوړونه ده. دغه پروژه به د خپلو تیرو لاسته راوړنو او تجربو نه په ګټه اخیستنې سره د روزنې د داسې یو پایښتونکي ظرفیت رامنځته کولو لپاره کار وکړي چې د افغانستان د ملکي خدمتونو اړتیاوو ته ځواب ویوونکی وي. په دې لار کې به د افغانستان د ملکي خدمتونو د انستیټیوټ د عملیاتي ظرفیت د لوړولو لپاره یو لړ هر اړخیز فعالیتونه ترسره کړي.

د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې د حکومت چلونې ستراتیژۍ د داسې پر کارکړني ولاړو ادارو هڅونې ته ژمنه ده چې مخ په ودې ټولنیز بدلون ته وده ورکړي.



*د لوړپوړو چارواکو د لومړي ګروپ په روزنه کې برخه وال پر ستراتیژیک پلان کار کوي*

د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژه د دغې سترې دندې د ملاتړ او بیا رغونې او دولت جوړونې په لار کې د مرستې لپاره ښه موقف کې ده. د بشري ځواک دغه ننګونه په ځانګړي توګه په لوړ پوړي اداري سطحه ډېره ګرمه ده.

پنځمه پاڼه کې ادامه لري

## د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې د روزني برخه وال د روزنیزو پروګرامونو په اړه څه وايي



میرمن **نورضیه کوهستانی** د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت د پالیسي او څیړنې د ریاست رییسه چې د لوړ پوړو چارواکو د دویم ګروپ په روزنه کې یې برخه اخیستې وه وايي چې تل له خپلو همکارانو په ځانګړې توګه تر لاس لاندې کسانو سره خپله پوهه شریکوي. دې وویل چې د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې د پروژې روزنه د دې لپاره مهمه وه ځکه چې د کارکوونکو د اغیزمنې اداري په اړه یې ډیر مهم مهارتونه په کې زده کړي دي. دا اوس وخت په ښه ډول تنظیمولی شي، د کارکوونکو کاري ظرفیت لوړولی شي، خپل دفتر په ښه ډول تنظیمولی شي، مجالس په ښه ډول اداره او تنظیمولی شي او د خپل ریاست د کار پایلې په ښه توګه اندازه کولای شي. دې یادونه وکړه چې د مشرتابه د ودې کورس له دې سره مرسته کړې چې د خپل کار لومړیتوبونه وټاکي او له خپلو کارکوونکو او مراجعینو سره په ښه توګه افهام او تفهیم وکړي.



ښاغلي **عبدالکریم نوروزي،** د کورنیو چارو په وزارت کې د تفتیش رییس چې د لوړ پوړو چارواکو د دویم ګروپ په روزنه کې یې برخه اخیستې وه وايي چې ده په ډیرو لنډو او اوږدو روزنیزو پروګرامونو کې برخه اخیستې وه خو په دې روزنه کې یې زده کړې مهارتونه ډیر عملي او د کار په ساحه کې یې د تطبیق وړ دي. د کاري پلان جوړونه، د شخصي کاري ظرفیت لوړونه، د وخت اداره او ستراتیژیک پلان جوړونه هغه مفاهیم دي چې په اساني کېدای شي د ده د کار په ساحه کې تطبیق شي.

ګڼ شمیر لوړ پوړي دولتي کارکوونکي د ښه حکومت چلونې، معاصرې رهبرۍ او د عامه اداري د اساساتو په پوهه او اګاهي کې د پام وړ نیمګړتیاوې (خلاوې) لري.

د تیرو کلونو د متمرکزو روزنیزو پروګرامونو په پایله کې ګڼ شمیر هغو لوړ پوړو دولتي چارواکو د خپلو وزارتونو او ادارډو په کار کې ښه والي راوستلی چې په روزنه کې یې برخه اخیستې وه. د دې برسېره د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې په پروژه کې روزل شوو کسانو بیا په خپل وار په خپلو ادراو کې روزنیز پروګرامونه ترلاس لاندې نیولي او په دې توګه یې له خپلو همکارانو سره زده کړې مهارتونه او پوهه شریکه کړې دي. د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې د پروژې یوه ناپییلې ارزونه ترسره شوې ده. د دغې ارزونې موندنې ښيي چې د روزل شوو کسانو په منځ کې د رضایت کچه لوړه ده. د هغو دولتي کارکوونکو ځواب،چې په اړوندو روزنو کې یې برخه اخیستې، د لوړ پوړي مشرتابه او د ځوان مشرتابه د پروګرامونو د کیفیت، طرحې او پلې کېدا په اړه خورا مثبت وو.

### د ۲۰۰۸ کال پلانونه

د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژه د تیر کال د لاسته راوړنو پر بنسټ غواړي چې په ۲۰۰۸ کې داسې مرتبط کارونه ترسره کړي چې د دولت له خوا ترلاس لاندې نیول شوې اداري سمون پیاوړی او د افغانستان د ملکي خدمتونو په کمیسیون کې د پایدو وړ کاري ظرفیت رامنځته کړي.

د لوړ پوړي مشرتابه د وړتیاوو د ودې روزنیز پروګرام پیلول به د پروژې د سږني کال له سترو موخو څخه وي. دغه پروګرام د لوړې سطحې یو هر اړخیز پروګرام دی چې پر هغو مهارتونو د لوړ پوړو چارواکو د سمبالولو لپاره جوړ شوی چې د دولتي سیکتور د پیچلیو کارونو د اغیزمنې اداري لپاره ضروري دي.

په دغه کورس کې به د هغو کسانو وړتیاوې وارزول شي چې اوس پر لوړو څوکیو کار کوي او یا هغه چې په راتلونکي کې پر لوړو پوستونو ټاکل کیږي.

اوومه پاڼه کې ادمه لري

## په کندز کې په ازمیښتي ډول د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې نوې لار کارول کېږي

د پسرلي له راتلو سره په کندز کې د موسمي بارانونو له امله کېدای شي سیلابونه راووځي. هوا پېژندونکي په دې وروستیو وختونو کې په غرونو او لوړو پرتو سیمو باندې درندې واورې ته په پام سره دغه ډول اټکل کوي. د ورساج، چال، بنګي او شکمیش پر غرو پرته واوره د امو، کوکچې، بنګي او بغلان د سیندونو مهمه سرچینه ده چې دغه سیندونه په کندز کې تیر شوي او د دې ولایت ۲۰۰۰۰۰ جریبه ځمکه خړوبوي. د ځنګلونو د منځه تګ، له ورشو ګانو نه د زیاتې استفادې او له غرونو او د غرو له لمنو نه په نامنظم ډول د ریګونو، کاړونو او کانونو د راویستو له امله په دغه ولایت کې د سیلابونو ګواښ نور هم سخت شوی دی.

د کندز د اوبو د تنظیم د چارو د رییس انجینیر خلیل الله امیني د څرګندونو له مخې په کندز کې داسې سخت ژمی او سختې واورې په تیرو ۵۰ کلونو کې نه دي ترسترګو شوي. د هوا او د حرارت د درجې بدلونونو ته په پام سره د درې ډوله ویجاړوونکو سیلابونو امکان لیدل کېدای شي: د ولایت په نږدې سیمو کې د باران له اورېدو او د واورې له وېلېدو سره کېدای شي د پسرلي په سر (د حمل له اخیرو ورځو د جوزا تر ۱۵پورې) کې ډېر سیلابونه راووځي او انساني او مادي زیانونه واړوي؛ د دوبي په سر (جوزا ۱۵ – سرطان) کې د ولایت ختیځ ته پرتو غرونو کې د واورې له وېلېدو سره نور سیلابونه راووځي؛ د هوا له لږ بدلون سره که د پسرلي په سر کې هوا یوه څه سړه وي (لکه چې په ۲۰۰۵ کې چې وه) کېدای شي د پسرلي د سیلابونو موده د دوبي د سر د سیلابونو له مودې سره یو ځای شي او د دوبي په سر کې سخت ویجاړوونکي سیلابونه راووځي. بزګرانو او د ولایت اوسېدونکو چې د تیرو، اوسنیو او او راتلونکو طبعي پېښو سملاسي قربانیان دي په دې اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د طبعي پېښو د خطرو د کمولو هر اړخیز پروګرام له طبعي پېښو سره د مبارزې د ملي ریاست او اروپایي کمیسیون د بشري مرستو له ځانګې سره په ګډه د ۲۰۰۸م په جنوري کې د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان د تنظیمولو لپاره یو ورکشاف جوړ کړ چې د دولتي ادارو، نړیوالو او ملي نادولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو د ادارو مسؤولیتونه په کې معلوم کړي.

له طبعي پېښو سره د مبارزې د ملي ریاست هغو شپږو روزونکو او د طبعي پېښو د خطرو د کمولو د هر اړخیز پروګرام د روزنې هغو متخصصینو چې د ۲۰۰۷م د اګسټ په میاشت کې ترسره شوي روزنیز پروګرام کې په ګوته شوي وو د دغه بهیر د مشرۍ پر غاړه درلوده چې ګڼو ولایتي ریاستونو او په اړونده ساحه کې مصروفو ادارو خپل نوي سیکتوري پلانونه په کې وړاندې کړل.

په دغه ورکشاف کې د دولتي ادارو، ملي او بین المللي نادولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو د ادارو تر ۳۰ ډېرو استازو برخه اخیستې وه. د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې د پلان د مسودې له بیاکتنې او ضروري بدلونونو له وړاندیزونو وروسته له طبعي پېښو سره د مبارزې د ملي ریاست او د طبعي پېښو د خطرو د کمولو د هر اړخیز پروګرام ګډ هیأت د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې نوی سیکتوری پلان وړاندې کړ. د دغه پلان په اړه ولایتي چارواکو او اړوندو خواوو یو لړ پوښتنې مطرحه کړې. د دوی څرګندونو ته د پلان په مسوده کې ځای ورکړای شو. وروستنی پلان به د ولایت مقام او د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې ولایتي کمېټې ته د تایید لپاره ولېږل شي.

اووم مخ کې ادامه لري

### د اروپایي کمیسیون د بشري مرستو څانګه په افغانستان کې

د اروپایي کمیسیون د بشري مرستو څانګه تر ۱۹۹۲م راهیسې په افغانستان کې د اوږده افغان کړکیچ او طبعي پېښو له قربانیانو سره مرسته کوي. افغانستان د غرني جوړښت او بدلېدونکې هوا له امله د طبعي پېښو لکه سیلابونو، زلزلو، ځمکه ښویېدنو او اوچکالیو په وړاندې حساس دی. دا وروستۍ اوچکالي چې له ۱۹۹۸ تر ۲۰۰۴ پورې یې دوام وکړ او بیا په ۲۰۰۶م کال کې یو تر ټولو بده ثبت شوې اوچکالي وه. له همدې امله د اروپایي کمېسیون د بشري مرستو څانګې له ۱۹۹۸ راهیسې تر ۱۲۰ میلونه ډېر ډالر د دغو طبعي ناورینو له قربانیانو سره د مرستې لپاره لګولي دي. د ۲۰۰۷ په جنوري کې اروپایي کمیسیون له شخړو نه د اغیزمنېدونکو وګړو د مرستې لپاره ۱۸ میلونه امریکایي ډالر بیل کړي دي.



د ورکشاف یوه مثبته پایله د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بشپړېدنه وه چې دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو ادارو په کې فعاله برخه اخیستې ده. په محلي کچه د دغه ولایتي پلان جوړونه او د پلان جوړونې په بهیر کې د مشارکتي لارې نه ګټه اخیستنې دا ټکی باوري کړ چې په پلان کې هغه ستر لومړیتوبونه منعکس شي چې د کندز له ولایت سره مستقیمه اړیکه لري.

په ورکشاف کې په کندز کې د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې په برخه کې مهمې خلاوې په ګوته شوې. د هېواد د نورو برخو په څیر په کندز کې هم د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې سیستم د تکامل په مرحله کې ده. په عمل کې، د طبعي پېښو په وړاندې مبارزه د طبعي پېښو پر مهال د بیړني غبرګون نه تیرېږي. د پېښو مخنیوی د یوې جلا مسلې په توګه ګڼل کېږي نه د ولایتي پرمختیایي پلان د یوې برخې په توګه. تر دې وروستي وخت پورې د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې کمیټه یوازې د کاغذ پر سر وه او باید پر یو فعال او بامسؤولیته دفتر باندې بدل شوي وای.

د پېښو په وړاندې د مبارزې پلان به له تاییدېدو وروسته له ټولو ولایتي ریاستونو او مؤسسو سره شریک کړای شي. دغه پلان به د پېښو په وړاندې د مبارزې د کمیټې تر څارنې لاندې په دغه سیکتور کې د مصروفو مؤسسو سره په ګډه پلې شي.

د کندز د طبعي پېښو په وړاندې د مبارزې ولایتي پلان به د طبعي پېښو د اداره کولو په هڅو کې تر تیاري نیولي تر بیړني غبرګون او بیا د پېښو د خطرې تر کمولو په برخو کې همږي رامنځته کړي. که څه هم د دغې عملي روزنې عمومي موخه د ټولو پېښو (سیلابونو، اوچکالیو، زلزلو، د حشراتو ناڅاپي برید او ځمکه ښویېدنو) د اداره کولو د (عادي)، تر پېښو وړاندې، د پېښو پر مهال او تر پېښو وروسته) پلان جوړونه وه، نوی پلان به د هغو سیلابونو لپاره د تیارې او غبرګون په برخه کې وازمویل شي چې د دې لیکنې په لومړیو پراګرافونو کې ورته اشاره شوې ده.

(له پنځم مخ نه...)

## ۵۰۰ افغان دولتي کارکوونکو د مدیریت او مشرۍ د مهارتونو په اړه روزنه ترلاسه کړې

په دې روزنه کې په پام کې نیول شوي کسان هغه لوړ پوړي دولتي چارواکي دي چې د پالیسي جوړولو او پرېکړو ترسره کولو مسؤولیت په غاړه لري او یا په راتلونکې کې کېدای شي په دغو پوستونو باندې وګمارل شي. د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژه په دې تیرو دوو کلونو کې پر دې کار کوي چې د مشرتابه د روزنې پروګرام و پایېږي. داسې هڅې ترلاس لاندې دي چې د ملکي خدمتونو د مشرتابه د ودې پروژې روزنیز ماډیولونه د افغانستان د ملکي خدمتونو انستیټیوټ له اړتیاوو سره برابر او مدغم شي.

دغه پروژه به په راتلونکو کلونو کې د افغانستان د ملکي خدمتونو د انستیټیوټ د عملیاتي ظرفیت د لوړولو لپاره په لاندې ساحو کې یو لړ مرتب او منظم کارونه ترسره کړي: د مدیریت او اداري اغیزمن جوړښت برابرول؛ د انستیټیوټ د روزنې د مدیریت ظرفیت لوړول؛ د یو ښه کتابتون او اسنادو ساتنې ځای جوړول؛ د روزنیزو موادو د جوړولو د مرکز جوړول.

## د ځوانانو د ملګرتیا راکړه ورکړه

د کاناډا د یو څو هغو زده کوونکو د هڅو په برکت چې غواړي د افغانستان له ځوانانو سره د ملګرتیا اړیکې ټینګې کړي درې سوه او شپږڅلویښت ورې، برابرې او غټې بکسې، نوي جاکټونه، بوټونه، پړوني، د ښوونځي بکسې او د ورزش سامانونه د سبا لپاره د افغانستان په نامه د دوو ښوونځیو ښوونکو او نجونو زده کوونکو ته ورسېدل.

که څه هم د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام برخه نه وه خو د نوموړي پروګرام د ملګرو ملتونو د پرمختیايي اداري کارکوونکو یې ملاتړ وکړ. د کاناډا او افغانستان ځوانانو غوښتل چې د یو بل په اړه څه زده کړي او موږ خوښ یوو چې د دوی تر منځ مو د منځګړي نقش ولوباوه.

کله چې پر دغو توکو بار موټرې زموږ له دفتر نه وتلې ساتونکو او خدمتکارانو د مخې په ښه لاسونه په هوا کې ورته وخوځول. دوی ټول به خپلو کورنیو سره دغه کیسه شریکه کړي وي چې د دوو هېوادونو دوه ډله ځوانانو څنګه یو له بل سره ښېګنه وکړه او څنګه دوی د هرې جینۍ توکي سره ټول کړل.

کله چې موټر ښوونځیو ته ورسېدل هوا په کابل کې لمرینه خو د ژمي د نورو ورځو په څېر د سانتیګراد منفي ۱۸ درجې سړه وه. دغه سړه ورځ د کابل پر سپینو واورو پټو غرو په منځ کې ډېره خوندوره وه.

په ورو، برابرو او غټو لاسونو کې په یوه کې سوغات او په بل کې په انګریزي کې لیکلي لیکونه چې دوی ته له کاناډا نه رالېږل شوي وو.

یوې جینۍ سملاسي نورو ته خپل لیک په ډېر تلوار په لوړ اوز پیل کړ. د دې اواز ډېر لوړ وو او نورو غوږ ورته نیولی وو. ځینې یې پوهېدې او ځینې نه. ټولې یې په دې پوهېدې چې راغلي لیکونه د دوی د بل هېواد له ملګرو نه رارسیدلي دي. خو د فکرونو نښلول دومره سره لیري نه دي. د لیکونو د شریکولو پر مهال د دوی تر منځ واټن نه وو.

هر څه پای ته ورسېدل، موټرې بېرته تشې خپل ځای ته راورسېدلې. افغان زده کوونکو خپلو کاناډایي ملګرو ته بېرته لیکونه ولیکل او په لیکونو کې یې د خپل ژوند ښې او بدې ورسره شریکې کړې. په دې لیکونو کې د کاناډا ځوانانو ته د نړۍ یوې بلې برخې د ځوانانو په اړه معلومات پراته وو او دا چې ځوانان هر چیرې چې وي ځوانان دي.

د دغو دوو هېوادونو د ځوانانو له راکړې ورکړې سره زموږ په زړونو کې نوې هیلې رازرغونې شوې.

پالیټ شاز



یوه زده کوونکې نورو ته د خپلې کاناډایي ملګرې لیک لولي، عکس: فضه حسینی

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د ملګرو ملتونو هغه نړیواله پرمختیایي شبکه ده چې د بدلون په لار کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي او د ولسونو د بنې راتلونکې لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچينو سره تړي.

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې کار ته عمومي کتنه

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له ۱۹۵۶م کال راهیسې په افغانستان کې شتون لري، چې د پرمختیایي مرستې تر څنګ د ملي بستونو د ظرفیت په لوړولو کې ورسره مرسته کوي. د طالبانو په رژیم کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې اسلام اباد ته د بېځایه شوو دفترونو له لارې په ټول افغانستان کې له افغانانو سره مرستې ته ادامه ورکړه. په دغه لسیزه کې، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې په افغانستان کې ۲۰۰ میلونه امریکایي ډالر مرسته ولګوله. د ۲۰۰۲م کال په سر کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې په کابل کې خپل نوی دفتر پرانیست.

د افغانستان په وړاندې ستړې بشري پرمختیاي ننګونې پرتې دي. د افغانستان د بشري پرمختیا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ له مخې، افغانستان د بشري پرمختیا په لړلیک کې د نړۍ په ۱۷۸ هېوادونو کې ۱۷۳م هېواد دی او د زړیزې د پرمختیایي موخو شاخصونه یې د افریقا د صحرا تر ډېرو هېوادونو ښکته ځای کې ښیي. په افغانستان کې د بې وزلۍ ژورتیا د بشري پرمختیا په ټولو شاخصونو کې په ثابته توګه جوته ده او د داسې یو هېواد په توګه یې په ګوته کوي چې دوامداره مرستې ته اړتیا لري. له همدې امله، بې له ایرانتیا، د زړیزې د پرمختیایي هدفونو لاسته راوړنې لپاره افغانستان د نړیوال لومړیتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستې په چوکاټ کې کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د ۲۰۰۵م کال په ډیسمبر کې له افغان دولت سره درې کلن کاري پلان لاسلیک کړی چې پر درې پرمختیایي ساحو تمرکز کوي: دولت جوړونه، ولسواکي او د مدني ټولنې ځواکمنول او پایښدونکی معیشت. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې پروګرام کې د ظرفیت لوړولو، ملي مالکیت او د تګلارو په هکله بحث ته پام اړول شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره تر هغې کچې د دولت د بنیادي کاري ظرفیت لوړول غواړي چې عامه خدمتونه په مساویانه او پایښدونکې توګه وړاندې کړای شي او د مشروع معیشت لپاره یو مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

په پام کې نیول شوي پایلې د افغانستان د مؤقتي ملي پرمختیایي تګلارې له موخو او شاخصونو سره سم تعقیبیږي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له دولت سره، په ځانګړې توګه د لاندې ډګرونو، د یو لړ پرمختیایي موخو په لاسته راوړنه کې مرسته کوي: امنیت او د قانون واکمنی، اداري سمون، روڼتیا او حساب ورکول، محلي اداره، سیاسي بهیر (ټاکنې او پارلمان)، د مدني ټولنې ځواکمنول، د ښځو او نارینه وو برابری، بشري حقوق، چاپېریال او کلیواله انرژي، په ټولنه کې د پخوانیو وسله والو میشته کول، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د ملي تګلارې پلي کول او همدارنګه د کلیوالي پرمختیا پلان جوړول او د خصوصي سیکتور پرمختیا.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره ټول کارونه له افغان دولت، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او په پرمختیایي چارو کې ښکیلو مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې له یو شمېر دولتي ادارو لکه د مالیې وزارت، د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملکي خدمتونو کمېسیون، د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمېسیون او د ښځو د چارو له وزارت سره په ستراتیژیکه توګه ګډ کار کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې ته تر ټولو لس ستر مرسته ورکوونکي، د امریکا متحده ایالات، اروپایي کمېسیون، جاپان، کاناډا، بریتانیا، هالنډ، ایټالیا، جرمني، ناروې او نړیوال بانک دي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د افغان او نړیوالو پرمختیایي شریکانو د ملاتړ او باور مننه کوي.

**د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، شاه محمود غازي واټ، کابل، افغانستان**
د ټیلیفون شمېره: ۴۰۰۰ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+ یا ۴۰۷۶ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+
**د دې موضوعاتو په هکله د لازیاتو معلوماتو د غوښتنې او یا د مرستې کولو لپاره:**
کومار ټیکو، د اړیکو د څانګې مشر ( kumar.tiku@undp.org )
فضه حسیني، د عامه اطلاعتو مسؤوله (fezeh.hosseini@undp.org)
www.undp.org.af